سرلوخ مرادزی ۲۰۱۲/۱۱/۳۰

ډیورنډ کرښه، څېڅپاند دریځونه او پنځم ستون

دوهمه برخه :

د ډیورنډ کرښې په اړه یوه بله ډله سره له دې چې په خبرو، لیکنو او نظر کې ډیورنډ یوه تپلې او استعماري کرښه بولي او په حقوقي او تاریخي دلایلوهغه په څلورمذهبه ناروا بولي او ردوي یې، خو په عملي ډګر کې بیا د خپلو دلایلو سرچپه پریکړه کوي او وایي که افغانان دا کرښه ومني، پاکستان به راضي شي او په افغانستان کې به خپله لاسوهنه او تیری بند کړي.

ځینې خو لا د ډیورنډ کرښه د زهرو د جام ګوټ سره تشبیه کوي چې باید یو دم پر سر واړول شي او له ستونې په تیریدو سره به هغه، د افغانستان په خیټه کې په صحي درملو بدله شي او د لرویرو افغانانو د اوږدو وختونو رنځ به پرې، په یوه وار درمل شي !

داسې کسان که څه هم په تاریخ کې پوهه لري، خو په عمل کې هیروي چې ددې زهرو یوازې یو غړپ امیر عبدالرحمان خان هضم نه شو کړای او تر اوسه یې دا زهر د اولادې په نس کې ګرځي او د یوه طبیب په دوا نه رغیږي !
د هیواد یو نومور شاعر د نیوکې او ملنډو پټوګه دا هم وایي چې « ځینې کسان لا وایی د ډیورنډ کرښه د افغانستان او برتانوي هند ترمنځ کش سوې ده. اوس چې برتانوي هند له منځه تللی دی، نو له هغه سره شوې ټول ټرونونه منسوخ دي ».
البته نومورې شاعر یا خبر نه دی او یا تجاهل العارف کوي او د « ځینې کسان » کلمې کاروي، خو دا یوازې ځینې کسان نه دي بلکې دا د افغانستان ملي شورا ده چې د ۱۹۴۷ کال د جون په ۲۶ مه یې، افغانستان سره د انګریزي استعمار د وخت ټول ټرونونه لغوه اعلان کړل. د داسې نا څرګندو او څېڅپاندو دریځونو نورې بیلګې هم ډېرې دي چې دلته د ټولو راسپړنه او یادونه اړینه نه بریښي. بلخوا د فرید یونس او ده ته د ورته کسانو د ملي ضد دریځونو په اړه چې د موجوده افغانستان په ویش نه جوړیږي، څه رسیږي دیته چې هغوی دي د ډیورنډ کرښې په ماتولو او د لوی افغانستان په بیا احیا کې له نورو افغانانو سره همګام شي، تبصره اضافي بولم !

خو په ټوله کې دغو کسانو ته چې د ډیورنډکرښې د منلو لیوال دي باید څرګنده شي، پاکستان پرافغانانو د ډیورنډ کرښې له منلو سربیره، غواړي افغانستان د هند او سیمې په وړاندې د خپل ستراتیژیک کنډو (strategic depth) پټوګه وکاروي او تل په افغانستان کې د ګودګي حکومت په لټه کې دي، په کم څه نه راضي کیږي !

د نومبر په ۱۷ مه ، د پاکستان پخواني دیکتاتور مشرف چې تل د هغه هیواد د پوځیانو اندټوګه څرګندوي، هندوستان ټایمز ورځپاڼې سره په مرکه کې وویل:« **موږ (پاکستان) اړتیا لرو چې په کابل کې د پاکستان تر تسلط او کنټرول لاندې حکومت نصب کړو.** د افغانستان اردو، پولیس اوحکومت د پنجشېریانو تر تسلط لاندې دی، تاند »
پنجاب چې یوخوا په مرموزه توګه، نظارشورا او جمعیت هڅوي ترڅو مرکزي حکومت پښو دریدو ته پرېنږدي، بلخوا پرکابل د همدغو سړیخورو د زیات واک او تسلط په پلمه، طالبان غیر کې نیسي چې کابل تل تر اور لاندې ونیسي او سا اخیستلو ته یې پرېنږدي !

څه موده وړاندې کله چې د پاکستان لومړی وزیر راجا پرویز، د کابل پروان کارته کې د پاکستان د سفارت د نوې مانۍ په پرانیسته کې د نظارشورا د سرخیلانو سره وکتل، هغوی ته یې ډاډ ورکړ«مورږ غواړو چې له تاجکو، هزاره او ازبکو مشرانو سره له نژدې کار وکړو څو له دوی سره د افغانستان د ثبات پخاطر خپلې اړیکې پیاوړې کړو. تاند»
د همدې اجندا په تړاو راجا پرویز، د شرارت مرکز اسلام ته ، ډبل عبدالله وباله چې عبدالله په بیره او سترګو رپ سره دا بلنه ومنله.

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

عجيبه ده پنجاب يوخوا پخپل ملاتړ د ترهګرو په مټ، د افغانستان ثبات او امنيت بربادوي خو بلخوا بيا وايي چې همدا خراب شوی امنيت د تاجکو ، ازبکو او هزاره مشرانو سره د نړدي کار په وسيله بيرته رغوي !!!
پنجاب نوري ښکاره او پټي موخي هم لري چې ددې ليکنې له حوصلې بهر دي،**خو اصلي خبره داده، که دوښمن په اباسين بند نه شي، په ډيورند کرښه نه بنديږي، سبا دهندوکش او بل سبا د اموسين دعوه لري !**

د افغانانو بله ډله بيا وايي، د ډيورنډ په اړه د غړ اوچتولو وخت نه دی. مورږ بايد انتظار وباسو چې سيمه يز او نړيوال شرايط اماده شي . خو که د ډيونډکرښې د تپلتيا ، استعماريتوب ، نه منلو او د خپلې خاورې د بيرته الحاق لپاره هيڅ غړ اوچت نه شي او په دې اړه افغانانو کې هيڅ کار ونه شي او داسې شرايط پخپل سر اماده هم شي، بيا هم مورږ له داسې شرايطو ګټه نه شو پورته کولای او د تېر پشان به نوې ګيلې او پلمې جوړو !

په تيرو ۱۱۹ کلونو کې، د ډيورنډ کرښې په تاوانونو او ناخوالو او د شرايطو په پلمه، ددې کسانو سر خلاص نه شو او اوس هم وايي چې ددې کرښې د ماتولو وخت نه دی رسيدلی. خو که څوک يوه ملي اراده ونه لري او د هغې د پليتابه لپاره هڅه ونه کړي، داسې وخت هيڅکله هم نه رارسيږي !

په تلويزوين کې يو چا د غازي امان الله خان د لور، شهزادګی اندیا څخه د نيوکې پتوګه پوښتنه وکړه، چې ايا ستاسو په نظر د ښځو د مخ لوڅاوي په اړه د غازي امان الله خان د هغه مهال اقدام مخکې له وخته نه و ؟ شهزارګی اندیا په ځواب کې وويل چې له بده مرغه زمورږ افغانان، نن هم چې له هغه وخته ۸۰ ـ ۹۰ کلونه تېر شوي ، د ښځو مخ لوڅاوی او نور حقوق مخکې له وخته بولي او که مورږ په دې فکرونو کې اوسو، داسې وخت به هيڅکله هم را ونه رسي !
په ۱۳۳۰ کلونو کې ملي شاعر ملنګ جان ته چې هغه مهال يې د پښتونستان په اړه، تودو شعرونو ټوله سيمه خو ځوله، کوم لوړپوړي چارواکي ويلي وو، چې دې ورځو کې پخپلو شعرونو کې د پښتونستان نوم مه اخله !

خو هغه بيا د نيوکې پتوګه دا شعر ويلی وو:

چا غورږ کې راته وويل چې جانان مه يادوه
د سرو شونډو له پاڅه سورپيزوان مه يادوه

له جانان څخه په دې شعر کې، د شاعر منظور پښتونستان و .
خو ارواښاد ملنګ جان سره د شوې پېښې، ۵۰ ـ ۶۰ کلونه روسته، نن بياهم ځيني کسان وايي، چې چوپ شی، د ډيورنډ کرښې نوم مه اخلی، لا وخت يې نه دی رسيدلی اوهرکله چې وخت يې راورسيد، بيا هغه ساعت او مصلحت ! که د ډيورنډ کرښې په اړه مورږ ددغو کسانو نظر ومنو، چوپ شوو او نوم يې وانخلو، په کورونو او ځمځو ننوځو، سبا به مو پنجاب، يو يو له ځمځو راوباسي.

د نومبر په ۲۸ مه ، په کابل کې د حق او عدالت ګوند يو تن مرکزي غړي، چې لږ څه پخوا وزير هم تېر شوی له بيات تلويزيون سره په مرکه کې د يوې پوښتنې چې ستاسو ګوند، د ډيورنډکرښې په اړه چې نن سبايې په اړه تاوده بحثونه راپورته شوي، څه نظر لري، په ځواب کې وويل: زمورږ ګوند له هيواد سره، د ډيورنډ کوزې غاړې د پښتنو په يوځای کيدو کې، ديموګرافيک بدلون ته « دا چې افغانستان کې به پښتانه نورهم زيات شي » د ځينو افغانانو د انديښنې په اړه، داسې نظر لري چې کوز افغانان د تابعيت هغه حقوق چې بر افغانان يې لري، نه شي درلودای !
داسې دريځ ته سړی بيخي حيرانيږي !
که کوز افغانان په دې وپوهيږي چې ددې ګوند سربېره نور افغانان هم دهغو په اړه داسې نظر لري، دوی به څه فکر وکړي، او د داسې يووالي ميوه به څه وي ؟ له دې کبله د ډيورنډکرښې او د هغې په شاوخوا د افغانانو د پوهيدا او د هغو د تنوير خبره د ورځې په غوښتنه بدليږي.
بلخوا د داسې پلمه ګرو او کمزورو دريځونو ترڅنګ، داسې کسان هم تير شوي چې په لرو افغانانو کې يې د ملي مشرانو د کمزورتيا لپاره ، ددې مسلې په تړاو په افغان دولت کې د پنځم ستون دنده ترسره کړې ده . راځی چې په دې اړه د لرو افغانانو د ملي مشر ارواښاد عبدالولی خان څرګندونې راواخلو. نوموړی وايي:

« نو داسې اوس په دې مورچه کې د افغانستان له طرفه هم ګوتې وهل شروع شو ـ دا نه چې ګوندې ددې خدايي خدمتګارۍ د ذهن مقابله په افغانستان کې دننه د باچاخان سره وکړي ـ بلکې دلته چې په۱۹۷۰ کې انتخابات کېدل نو د حکومت افغانستان له طرفه د هغه وخت ۲۲ لکه روپۍ د قيوم خان په انتخاباتي سهم کې چنده ورکړی شوې وه .اول خو مورږ دا هسې افواه ګڼله ـ ولې بيا وروستو هغه سړی هم معلوم شو ـ چې دا رقم ما (يوسفزی) قيوم خان

افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مورږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

له وړی و ــ دغه د ننګ یوسفزی په نامه د ــ سوات د کوهستان یو هلک چې ډیلي کې په ال انډیا کې کارکوونکی د دیر اوسیدونکی ګران خان سره و ــ او بیا د تقسیم (منظور یې د هند د لویې وچې تقسیم دی) په وخت کې راغی ــ ما سره زما په کور کې دېره و ــ لکه د خپل بچي ــ نو هلته مور سکول کې داخل کړو ــ سبق یې وې ــ خو چې کله د قیوم خان پکړدکړ شروع شو، زه یې ونیولم ــ جایداد مې ضبط او کور مې تالاشو ــ نو دی افغانستان ته وتښتید ــ او چونکې ګران خان دوی هم د ډیلي نه کابل ته تللي وو ــ نو ده ته څه خاص مشکل پیښ نه شو ــ او چې بیا دا خبره وشوه ــ چې دی زما له کوره تللی دی ــ نو د باچا خان د کورنۍ د غړي په حیثیت ورته وکتلی شو ــ چې بیا د افغانستان د پارلمان ممبر شو ــ نو د افغانستان له جانبه د چندې دا رقم هم دې ننګ یوسفزي، قیوم له راوړه ــ چې زمور په خلاف استعمال شي.

دا د باچاخان د ذهن او سیاسي تحریک د خدایي خدمتګارۍ دا منصوبه ورو ورو ډاګې (میدان) ته راوتله ــ او کوشش دا و ــ چې هغه د پښتونستان د تحریک په نامه ریډیو او د افغانستان د اشاعتي ادارو کوم کار د لراو بر پښتون د تړون په نامه کړی و، هغه ورو ورو او قدم په قدم له منځه یوسي او د باچاخان د موجودګۍ او جدوجهد سره چې کوم ذهن په افغانستان کې ــ جوړیږي ــ د هغې مقابله وکړی شي ــ او د باچاخان په حیثیت د یوه قومي مشر چې دواړو لروبر پښتنو ته قبول وي ــ دغې ته نقصان ورسي ــ نو په دې سلسله کې ډېر کوشش په دې اړخ هم کیده ــ چې په پکستان کې دننه د پښتنو د سیاست په هکله هم غلط فهمي پیداکړی شي او یوازې دا نه چې ګنې د قیوم خان غوندې پښتون دشمن مالي امداد وکړی شي ــ چې دا خدایي خدمتګاري راځملوي ــ بلکې ددې خدایي ختمتګارۍ د ذهن او د باچاخان د تحریک د مخنیوي لپاره د پاکستان دننه پښتنو په هکله پراپیګنډې وشي چې د لراو بر پښتون د وروروڼۍ دا تړون ونه شي

اخځ : باچاخان او خدایي خدمتګاري ــ دوهم ټوک ، د عبدالولي خان لیکنه، ۶۱۳ مخ .

نور بیا

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ